بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## د ټرمپ د ولسمشرۍ یو کلنه دوره؛ بریا که ناکامي؟



امریکایان د ټرمپ د ولسمشرۍ د لومړي تلین په تړاو سره ویشلي دي، د امریکا متحده ایالاتو حکومتي ادارې ځکه تړلې وې چې حکومت له کانګریس سره د بودیجې په تصویب کې هوکړې ته و نه رسید، یعني ۷۵۰۰۰۰ حکومتي مامورین به له تنخواه پرته په کور کې وزګار ناست وي. ټرمپ ځان ښه لوبغاړی بولي، چې په وینا یې امریکا به بیا ځلې ستره کړي، خو تر یوه کال حکومت کولو وروسته، اوس باید قضاوت وشي چې نوموړي څه لاسته راوړنې لرلې.

د امریکا د ولسي جرګې غړې لینډا سنچیز وایې: « دوی ثابته کړه چې نه شي کولای د حکومت لومړنۍ دندې ترسره کړې، لکه: د سړکونو پر سر د څراغونو روښانول... نو څرنګه موږ باور کولای شو، چې دوی به هغه ننګونې چې زموږ هیواد ور سره مخ دی، کابو کړي؟ » ټرمپ په خپل ټوېټ کې لیکلي و: « دغه زما د ولسمشرۍ لومړی تلین دی او ډیموکراتانو باید ما ته یوه ښه ډالۍ راکړې وی.» ډیموکراتان ټرمپ پړ ګڼي او ټرمپ دوی پړ ګڼي!

ټرمپ د تور پوستانو، لاتیني امریکایانو، مکسیکویانو او ځایي امریکایانو پر وړاندې له نژادي توپیر ډکه ژبه وکاروله، د دې تر څنګ هغه مسلمانان هم د ده د ادارې موخه دي، چې امریکا ته له بېلا بېلو هیوادونو راغلي نو ځکه دوی ورباندې بندیزونه لګولي دي. د ټرمپ د لوړې د مراسمو په لومړۍ ورځ او له هغې وروسته، د نوموړي پر ضد پراخ لاریونونه او اعتراضونه وشول، چې تاوتریخوالی او مرګ ژوبله هم ورسره مله وه. په یادو اعتراضونو کې هر چا نوموړی په سپکو سپورو یادولو. ډېری امریکایان پر هغه څه چې دی یې وایې، باور نه کوي.

ټرمپ به پر هغو برید کاوه، چې له ده سره به مخالف وو. ده د خپل هیواد قضایه قوه، څارګر بنسټونه او مطبوعات بدنامه کړل. ده ډېری وختونه د خپل جمهوریپال ګوند غړي، خپل مامورین او د کابینې

غړي بدنامه او سپک کړل، نو ځکه یو شمېر روغتیایي چاراواکو په ډاګه د نوموړي دماغي حالت تر پوښتنې لاندې راوست.

له بل لوري نوموړي خپلې ځینې تاکنیزې ژمنې پوره کړې، چې د آرام سمندر د هیوادونو د اقتصادي تړون (Trans Pacific Partnership)لاسلیک، د پاریس اقلیمي بدلون له تړون( Paris Climate Accords) څخه وتنه او د متحده ایالاتو پر شرکتونو د پریمانه مالیې کمول پکې شامل دي. په داسې حال کې چې له نړیوالو تړونونو څخه د ټرمپ وتنه به په زیاتېدوونکې توګه په څو قطبي نړۍ کې د امریکا مشري زیانمنه کړي. چین خپل سیاسي او اقتصادي نفوذ پراخوي. په داسې حال کې، چې امریکا خپله اخلاقي مشري چې په وینا یې تش په نامه د آزادۍ نړۍ له اصطلاح څخه انکار کوي، له لاسه ورکوي. دا هغه څه دي چې ټرمپ وویل: « امریکا ځواکمنه کړئ. » امریکا متحده ایالاتونو تل امریکا ځواکمنه کړې ده، خو ټرمپ په ډاګه هغه نړیوال نظم چې د نړیوالو بنسټونو او اصولو لکه: د ملګرو ملتونو د ادارې له لوري چې اداره کېږي، له پامه غورځوي.

پخوانیو ولسمشرانو هم دغه کار کاوه، خو هیڅ یو هم دومره مغروره نه و لکه څومره چې ټرمپ دی. د امریکا متحدین او دښمنان په زیاته کچه د نوموړي له پاروونکو او ګواښوونکو ویناوو څخه د امریکا پر وړاندې حساس شوي دي.

د نړۍ رهبران د وینا نه، بلکې د سیاسي واقعیتونو پر بنسټ پرېکړې کوي، خو ټرمپ هغه کسانه چې ده ته یې رایې ورکړې دي، د ځینو امتیازونو په ورکړه غلې کړل. همدا رنګه د نړۍ نور رهبران هم د امریکا د غرور له امله د خلکو له راټوکېدونکو فشارونو څخه خلاص نه دي. ټرمپ د چین د وېرولو لپاره د شمالي کوریا کړکیچ را پورته کړ، خو چین د پخوا په څېر خپل اقتصادي او سیاسي ودې ته دوام ورکړ او شمالي کوریا د پام وړ توغندیز او هستوي وړتیاوې ترلاسه کړې. ټرمپ نور هیوادونه د مکسیکو، وینزیویلا او ایران په ګډون وګواښل، خو په ټوله کې هیڅ یو هیواد هم د نوموړي ګواښونو ته سر ټیټ نه کړ، پرته له ځینو لاسپوڅو عربي هیوادونو څخه چې ډېر ژر سر په سجده شول.

د مې په میاشت کې له سعودي عربستان څخه د ټرمپ د لیدنې په ترڅ کې د ۳۸۰ میلیآردو ډالرو په ارزښت یو ستر تړون لاسلیک شو. د ټرمپ د سفر په پای کې د سپینې ماڼۍ اقتصادي سلاکار ګاري کون وویل: ولسمشر وکولی شو چې داسې حیرانوونکې تړونونه وکړي چې په حقیقت کې هیڅکله هم یوې مخکنۍ ادارې نه دي ترسره کړې.

د دغو پیسو راټولول به سعودي عربستان په پښو کښنوي، سعودي عربستان لا تر اوسه د هغو پیسو د پیدا کولو په لټه کې دی، چې په ۲۰۱۲م کال کې یې د اوباما له ادارې سره د ۱۱۲ میلیاردو ډالرو په ارزښت له کاره لوېدلو وسلو د تړون د پیرلو له درکه لاسلیک کړې وې. کانګریس تر هغه تضمین وروسته چې یهودي دولت به ډېرې پرمختللې وسلې له امریکا څخه اخلي، دغه تړون تصویب کړ. د ټرمپ په ولسمشرۍ کې یاد تړون د امریکا ستره لاسته راوړنه ده! یاد تش په نامه تړونونه یوازې او یوازې تفاهم نامې دي، چې لازمي بڼه نه لري.

له دې سره سره سعودي عربستان د امریکا د خوښې لپاره ګڼ خدمتونه ترسره کړي دي او وسلې هم په دې موخه پیري چې په یمن کې نور ډېر مسلمانان ووژني او له یهودي دولت سره ځنګ په ځنګ د ایران پر خلاف په جګړه کې د ډېرو مسلمانانو وینې تویې کړي او سرچینې یې ضایع کړي.دا د پیړۍ تر ټولو کرغیړن تړون دی چې پر بنسټ یې ټرمپ بیت المقدس د اسراییل د پلازمېنې په توګه رسماً وپیژنده او فلسطیني ادارې ته یو ستر سپکاوی و.

ټرمپ د خپلې یو کلنۍ دورې په ترڅ کې، خپل هیواد سره وویشلو، د امریکا متحدین یې له ځانه پردي کړل، په نړۍ کې د چین د نفوذ په مخنیوي کې پاتې راغی، هغه بنسټونه یې چې مخکې امریکا پرې تکیه کوله، کمزوري کړل او د اسلامي نړۍ چارواکي یې نور هم غلامۍ ته اړایستل. ټرمپ د ښکېلاکګرې امریکا څېره بربنډه کړه او په دې ډول یې خپلو موخو ته ځان نژدې کړ.

**لیکوال:ډاکټر عبدالله روبین**

**د الرایه ورځپاڼې لپاره، ګڼه ۱۶۶**

**ژباړن: جمیل خان**